پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۸/۱۲/۲۷م

# اوسنی ناورین او د مرغومي ناسور ټپ

مینه که زړه شی خو یادونه به یی وی       جوړکه شی زخمونه خو داغونه به یی وی

دافغانانو ویاړلی هیواد دآسیا په زړه کی دخپل جیوپولیتیکی موقعیت له مخی تل د لویو تیری کوونکو پام ځانته اړولي او دهغوی حریصی سترګی یی په خپل لور کړی لیدلي دی . که دتاریخ په اوږدو کی ځینی وختونه پدی خاوره کی دلویو امپراتوریو زنی زرغوني شوی او په هرلوري یی ریښی ځغلولي دی خو ځینی وختونه بیا دپردیو امپراتوریو داړی هم ورته سپنی شوی او پرنازک بدن یی ورته خونړی زخمونه جوړ کړیدی .

دنړی ډیرو سترو قدرتونو دپیریو په اوږدوکی ددی هیواد داشغال خوبونه لیدلي , مګر ډیرو لږو دا جرئت کړی چی په نیغ برید سره ئی په نیولو لاس پوری کړی . دی کارته دوی یوزای هغه وخت زړه ښه کړیدی چی په دننه کی ئی سیاسی کړه وړه نازک لیدلي , خپل منځی شخړو ته ئی لمن وهلي , سیاسی اړخونه ئی یودبل په وړاندی پرشا ټکولي , یو دبل پلاس ئی له پښو اچولي او پدی توګه ئی دکړکیچینو حالاتو څخه ګټه پورته کړی او حمله ئی پری کړیده. لکه څنګه چی تجربی ښودلي ددغسی نازکو شرایطو په منځته راتلو سره هیواد په نسبتاً اسانه توګه دپردو پلاس کښیوتي ، ولی داشغال په حالت کی ئی بیا ساتنه ورته ډیره ګرانه تمامه سوی ده . دی کار که دیوی خوا داشغالګرانو پزه په خاورو پوری مښوولي ده , خوله بلي خوایي دوطن بی شمیره بچیان د وینو په رود کی لاهو کړی، مادی او معنوی شتمنی یی دخاورو سره خاوری شویده. پدی ډول داجنت نښانه ځمکه داشغالګرانو پاره جهنم ګرځیدلي , دهغوی دپاره په ادیره اوښتی او ژوندی پاته شوی کسان یی په مړو سترګو لدی خاوری شړل شویدی .

د ۱۳۵۸ کال دمرغومي شپږمه نیټه دهغو تورو ورځو په ډله کی تر ټولو کرغیرنه ده چی دکرملین دناروغو واکمنانو په امر د ( کا جي بي ) ناپاک لاسونه دافغان سپیڅلو شاځلمیانو په وینو سره شول .

ددغی ورځی څخه چی نژدی دری لسیزی تیري سوی دی , لاتر اوسه پوری هم نه یوازی داچی زخمونه یی ګندل سوی ندی , بلکه هغه په ناسور اوښتی او لاهم تری دوینو لښتي بهیږی . پدی کی شک نشته چی هیوادته دکرملین په لاسونو او یا دهغوی دکورنیو چوپړیانو د ورانکاریو له کبله به منځته راغلي مادی زیانونه یو وخت یا دنړیوالو په مرسته او یا پخپله دافغانانو دزیار او زحمت په مټ بیرته جبران او داسی به ورغول شی چی ان نښی نښانی به یی لا ورکی شی , مګر هغه زخمونه چی پدغو ناوړو لاسونو د افغانانو پرروح او تن باندی لګیدلي دی , داغونه یی تر پیړیو پیړیو پوری لا پاته او تاریخونه به یی دیوه نسله تر بله پوری ورسوی .

جوړکه شی زخمونه خوداغونه به یی وی

کرملین چی دخپلو طلایی خوبونو دعملي کولو پخاطر نه یوازی پر حفیظ الله امین باندی چی تر وروستنۍ سلګۍ پوری یی دشوروی او ولس سره دخپلي صادقانه دوستی ناری وهلي , زړه سوی ونکړ , دهغه بیګناه او معصوم ماشومان یی هم له تیغه تیرکړل ، بیانو دعامو وطنوال په ډله ایزو وژنو , نسل تباهی , کلیو او ښارونو په ورانولو څه بند و واز وو ؟ داټول هغه څه دی چی دافغانانو پر بدن یی زخمونه ناسور کړی او ننني ټولي بدمرغی یی مستقیمه پایله او کرغیرن میراث دی .

دسره اردو دشړلو څخه وروسته که تنظیمي جنګونه دکرملین دخپلسرۍ او معیوب مشرتابه د ناسنجول شوو کړنو زیږنده وه , خو امریکا او لودیز بیا د ( کا جی بی ) پلاس ددغه زیږیدلي ښامار په روزلو او چاغولو کی د پام وړ رول ولوباوه. دمنځنیو پیړیو بنسټپالنی دهمدغو تنظیمونو په ګیډه کی وده وکړه چی د پاکستان په غیږ کی وزیږیدل , امریکا او غرب په ناز او شفقت سره و روزل . امریکا او لودیز که هغه وخت ددغه اوه سرۍ ښامار په زیږیدو سره دخوښی جامونه پورته کړل خو یوازی د ۲۰۰۱ کال دسپتمبر پر ۱۱ دهغو زهرو په تاثیر باندی پوه شول چی په خپل لابراتوار کی یی په ډیر دقت سره جوړ کړی وه . دغه هیوادونه وه چی نړیوالي القاعدی ته یی افغانی تنظیمونه دشاګردانو په توګه وسپارل څو د بنسټپالنی په سپاره کی سبقونه ورکړی او د کرملینی خرس زامی پری ماتی کړی . دا دوی دی چی اوس ورته په خپل لستونی ساتلی مار ګرځیدلي او هرګړی یی دنیښ د زهرو مزه څکی . دا دتاریخ هغه درسونه دی چی سیاسوال باید تری ډیر څه زده کړی .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

له دی نه برسیره بلې تیروتنې د بن په کفرانس کی دطالبانو تر ماتې وروسته په ډاګه وښودل چی د زور ښودلو نیشه دمنطقو مقتل دی . دا هغه ستره تیروتنه وه چی پر بنسټ یی دافغانی ټولنې ترکیب او ځانګړتیاوې په نوموړی کنفرانس کی بیخی له پامه وغورځولې شوی .

پدی کی هم د شک ځای نشته چی طالبانو هم د نورو تنظیمو پشان وخارجی مرستو ته اړتیا درلوده او پاکستان پدی اړه ورته سینه ټکول . مګر داخبره هم باید دیاده و نه باسو چی د کنړه تر نیمروزه او بیا دنیمروزه د بدخشان تر لوړو څنډو دطالبانو رسیدل یوازی دخارجی ( پاکستانی ) قوتونو پر اوږو دامکانه وتلې کار وو . کنه نو ولې کارمل بیچاره ونکړای شوه څو د ۱۲۰ زره کسیز سره اردو پر اوږو چی دعصر په ټولو پرمختللو وسلو (ځمکنې او هوایی) سمبا ل وه , په لسو کالو کی ځان دنژدی لوګر ولایت د نرخ یا خروار تر اولسوالۍ پوری ورسوی . ددی نه په څرګنده ښکاری چی دخارجی هیوادونو نظامی مرستې که هرڅومره زیاتې هم وی , په یوازی سر هیڅ نشی کولای . ددی خبری بله ښه بیلګه په هیواد کی همدا د نننې کړکیچ غمیزه ده چی دنړۍ دنژدی څلویښتو پرمختللو هیوادونو څه باندی ٦٥ زره ترغاښو وسله وال پوځیان د اوسنې عصر په ډیری پیاوړی تکنالوژۍ سره مجهز د طالبانو دیوه ګروپ په وړاندی بیرحمانه جنګیږی ولی دپرمختګ تر سرعت یی پرشاتګ ګړندۍ دی . ددی نه هم سترګی پټول سخته ده چی   پاکستان د طالبانو سره اقتصادی او تریوی ټاکلې کچی پوری د وسلو مرستی هم کولې . برسیره پردی لکه څنګه چی طالبانو پخپله هم منل ، یو تعداد پاکستانی طالبانو هم دشهادت جام دترلاسه کولو پخاطر دافغانی طالبانو سره یوځای دشر او فساد پر ضد په جهاد کی فعاله ونډه اخیستل . لدی نه پرته دطالبانو په ټول جنګ کی هیڅ یوی بی پری سرچینې تر اوسه پوری دپاکستانی منظم اردو , ټانک یا الوتکو دګډون یادونه نده کړی . طالبانو خپل جګړه ایز حرکتونه دشر او فساد په وړاندی دجهاد پنامه یادول . زه پخپله دهغه وخت کړو وړو ته د (شر او فساد) داصطلاح ټاکلو سره همږغۍ یم ځکه چی د ۱۳۷۱ کل دغوایی د ۸ نیټې وروسته دتنظیمی انارشیو او اړودوړ پرمهال هیڅ ډول ټولنیز قانون ( اسلامی شریعت یا مدنی قانون ) حاکمیت نه درلود , هره ورځ دخلګو پرسر، مال او ناموس باندی تیری کیدې . پاټک بازی او قطاع الطریقی د تنظیمې وسلوالو (دطالبانو په اصطلاح توپکیانو) دپاره یو غوره دود ګرځیدلې وو . په سلګونو کلنو دهیواد را ټوله شوی مادی او معنوی شتمنې ددغوکسانو پلاس چی د فی السبیل الله جهاد ناری یی خپری وی , یوازی دځو لومړنیو ورځو په موده کی په ناروا توګه دغنیمت ترنامه لاندی دیوه مخه چور او تالان شوه . پردغو چارو باندی به نو بیله شر او فساد نه بل څه نوم کښیښودل شی ؟ . یوه خبره ټولو ته روښانه او هغه داچی همدغه دشر افساد پرضد دجهاد شعار وو چی طابانو یی له مخی دهیواد په هرګوټ کی دخلګو ملاتړ ترلاسه او په مرسته یی په ډیر لنډ وخت کی دافغانستان ۹۵ % برخه داسلامی امارت تر کنترول لاندی راوستل. دهیواد په هر ولایت کی دتنظیمی جګړو او ورسره تړلې شراو فساد نه خلګ پر نفس راغلی وه , ځکه یی نو طالبانو ته لبیک ووایه. دلوړو څرګندونو پربنیاد دا دخلګو ملاتړ وو چی طالبان یی دبدخشان څوکو ته ورلنډ کړه . په یوازی سرد پاکستان مادی او معنوی مرستو (البته دغو مرستو هم تر ټاکلې کچی پوری خپل رول درلود) طالبانو ته هیڅکله هم دومره بریاوی ور په برخه کولای نشوی چی بیلګی یی په لوړو کرښو کی په ګوته شویدی . خو داچی دجهادی حاکمیت ددغو اعمالو ضد فعالیتونو ته دجهاد نوم ورکول پرځای کار دي که بیځایه , زه څه نشم ویلای . پهر حال ددی خبری سپیاوۍ می داګړۍ د لیکنی موخه نده . او هغه څه چی ویل ئی غواړم دادی چی دغه ترخه واقعتونه او همدرانګه ددغو واقعتونو په غیږ کی د فوندامنتالیزم وده او نننی ځان وژونکې بریدونه , ورور وژنې , دعامو تاسیساتو ورانول , بد امنی , دنشه ای توکو کښت , دخارجی قوتونو په بمباریو کی دملکی وګړو مرګ ژوبله او عام قتلونه دا ټولی بدمرغۍ دهغه ناسورتپ د وینو داری دی چی د ۱۳۵۸ کال د جدی دشپږم ماښا راهیسی  دهیواد پر بدن پریوتۍ دې .

بله خبره چی دیادونې وړ یی بولم داده چی که پر حق وو یا ناحقه طالبانو وکړای شول د امنیت  په راوستلو سره تر لازمی کچی پوری د خلګو ملاتړ پلاس راوړی . دا بیا هغه څه دی چی باید د امریکا او ددوی د انډیوالانو په مټ دطالبانو تر ماتی وروسته هم په پام کی نیول شوی واې او په وروستی دولت کی دطالبانو دقوت د نفی کولو پایلي ارزولې شوی واې. دغه بنسټیز ټکې دی چی غواړم دلوستونکو او اړوندو چارواکو پام ورته راواړوم .

دبن دکنفرانس لویه تیروتنه دڅیرونکو په اند همدا وه چی هلته دفوندامنتالیزم د ونې وښاخونو ته پام واړول شو , نه دهغه وریښو او علتونوته . داځکه چی :

۱ - د هیواد په دننه کښی پرهغو ډلو باندی تکیه وشوه چی د ناوړتیاوو له کبله یی خلګ په تنګ شوی وه او طالبانو ته یی لبیک ویلې وو .

۲ - د افغانی ټولنې ترکیب او تاریخی ځانګړتیاوی له پامه وغورځولې شوی .



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

۳ - نړیوال قوتونه د طالبانو په ماتولو سره په خپلو بریاو باندی دومره مغرور او نیشه شوی وه چی د سبا ورځی دحالاتو او احتمالی پیښو په هکله یی فکر هم کولای نشو .
٤ - دحکومت په جوړولو کی منطقی ترکیب اصلاً په پام کی ونه نیول سو .
٥ - دموجودو اوتیرو واقعیتونو په هکله څیړنې او پایله اخیستنې هیڅ تر سره نشوی او پدی اړه د م. م. یا ایساف لخوا کومه تحلیلي څیړنیزه لیکنه خپره نشوه .
٦ - د بیارغونی دپاره په ملی کچه پرکوم منظم پروګرام ( لکه تر دوهم نړیوال جنګ وروسته د جیورج مارشال پروګرام په اروپا کی ) باندی فکر ونشو .
۷ - تر بن وروسته په لومړیو ارامو کلنوکي دبیاجوړوني چارو ته ټینګه پاملرنه ونشوه او دملی وسلوالو قوتونو و روزلوته پوره پام وا نه ړول شو ځکه چی لومړی خښته یی د تنظیمی بنسټپالو لخوا کښیښودله شوه او مسلکی روزل شوی کادرونه تری وشړل شول .
۸ - په را وروستو کلنو کی امریکا او انډیوالانو یی د کرملین تیروتنې له یاده ویستلې او تر ډیره حده کټ مټ د هغوی پر پله روان دی چی باید پایلې یی هم دهغو تیروتنو له پایلو سره ورته والې پیداکړی .
۹ - او ۰۰۰۰۰۰ او ۰۰۰۰

لوړو تیروتنو داسی حالات منځته راوستل چی مرکزی دولت ضعیف او بیچاره پاته شو , بد امنیو او دنشه ای توکو قاچاق په حکومت کی زور واخیست , اداری فساد چی په تنظیمی حکومت کی یی ریښی ځغلولې وی یوار یی بیا غوټۍ وسپړلې او دولت یی سرګیچ کړ. ددی کړکیچ نه په ګټه اخیستلو د دولت په دننه کی پنځم ستون ته دسبوتاژ دپاره ښه چانس پلاس ورغې چی هم یی پخپله دخپل خصلت له مخی فساد زیراوه او هم یی ددغه فساد د شتون له کبله دولت تخریباوه , نو یی پدی توګه وکولای شوه چی خلګ له دولت نه بیزار کړی . هغه وو چی خلګو مجبوراً و طالبانو ته یو ځل بیا دامید سترګی واړولې او پدی ډول د طالبانو ریښی لا نوری هم په کیلو او باندو کی اوږدی وغځیدی او ملاتړ یی زیات شو . دسبوتاژ کوونکو دهیلو په خلاف ددغو ټولو لاملونو نتیجه دا شوه چی طالبان اوس هغه قوت ګرځیدلې چی نفی کول یی ستونزمن کار او داخبره یو انکار نه مننونکۍ ضرورت دی چی باید په اړه یی دسیاسی جوړ جاړیو لاره خپله شی، البته نوموړی پنځم ستون چی اوبه یی خړولې او کبان یی نیول , دطالبانو سره روغی جوړی مینه وال هم ندی او په یوه یا بل شکل پدی لاره کی خنډونه اچوی . داځکه لکه حمید ماشوخیل چی وایی :

په رموز د یار د شونډ و یار پوهیږی
چی میخورزده سوال جواب د می فروش

ددی خبری نه مراد دادی چی طالبان او په دولت کی داخل پنځم ستون یو بل ډیر ښه پیژنی .

د نیکه مرغه دملی اونړیوالو میډیاوو ( ډله ایزو رسنیو) څخه اوس داسی ښکاری چی ګوندی دنړیوالو ټولنو پام خپلو تیروتنو ته اوس را اوښتی او د اصلاح کولو په موخه یی دطالبانو سره د روغی جوړی خبری د ورځی توده موضوع ګرځیدلې ده ( # ) . زما په اند دا کار دهغه څه سره ورته والې لری لکه په اتیایمه لسیزه کی چی ډاکتر نجیب الله دګرباچوف دنوی سیاست په رڼا کی او دهغه دغوښتنو له مخی دملې روغی جوړی پروګرام رامخته کړ . دا هغه وخت وو چی مجاهدینو زور موندلې وو او نور یی نو یوازی په دولت کی په ګډون سره قناعت نه کاوه . تجربی وښوده چی دجهادی تنظیمی مشرانو دا ډول سرټمبه ګی که څه هم ځینو ډلو یی له دی نه ډیره شخصی ګټه پورته کړه خو په ټولیز ډول نه ددوی په ګټه تمامه شوه اونه هم د وطن او خلګو. لکه زموږ د وطن دری متل چی وایی : دیر رسیدن بهتر از نرسیدن . که همدا اوس هم پدی هکله د دوستې په جامو کی که دسبوتاژ کوونکو(پنځم ستون) مخه ونیوله شی , د روغی جوړی د دښمنانو لاسونه لنډ شی او د زړه له کومې لیڅی راونغښتلې شی , دا امید شته چی نوموړو بدمرغیو ته به د پای ټکی پیداشی ځکه هرشې چی پیل لری باید پای هم ولری .

دبل لوری طلبانو ته هم پکارده پدی خبره باندی ځانونه پوه کړی چی په سوله کی ددواړو خواوو خیر پروت دی او د وطن په ورانولو سره دوی هم بدنامه کیږی . دهمدغه حالت نه چی لا دیوی خوا نړیوال اقتصادی بحران ډیر ژور شوی ندی او دبلی خوا دنړیوالو پام دافغانستان نه ندی اوښتې , باید دهیواد په بیارغولو کښی بشپړه ګټه پورته شی . خلګوته په سوکالۍ راوستلو سره د دنیا او اخیرت ګټی ترلاسه کیدلای سی چی داپخپله ډیر غوره عبادت دی . طالبان باید دی واقعیت باندی هم ځان خبرکړی چی که هر وخت په افغانستان کی امنیتې حالات مخ پر ښه کیدو شی , هلته دمیشتو خارجی قوتونو هیوادوال او پارلمانونه خپل حکومتونه مجبوروی چی له افغانستان نه هرڅه ژر خپل قوتونه راوباسی . ددغسی حالت تر ټولو ښه بیلګه عراق دی چیری چی تراوسه لا امنیتی حالات په بشپړه توګه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

نورمال شوی هم ندی اویوازی یی په نسبی ډول ډیر لږ د ښه کیدو په لور بدلون موندلې دی , اړوند هیوادونه یو په بل پسی دهغه هیواد نه دخپلو عسکرو دایستلو پروګرامونه او مهال ویشونه اعلانوی . همداکار په افغانستان کی هم کیدونکی دی . ددی خبری مانا داده چی که طالبانو ته دافغانستان نه دخارجی قوتونو د وتلو خبره مهمه وی , باید دروغی جوړی هرکلی وکړی ځو امنیت ښه او دنوموړو هیوادونو پارلمانونو ته پر حکومت ددوی دعسکرو د رایستلو په موخه دفشار اچولو بهانه پلاس ورشی .
و من الله توفیق

*********

( # ) - پدی اړه د ډنمارکی رسنیو ښخه (د یوه طالب وژنه د دوو نورو زیږول دی) تر سرلیک لاندی زما ژباړله شوی لیکنه هم په زړه پوری معلومات لری چی په افغان جرمن انلاین او نورو افغانی انترنیتی سایټونو کی یی لوستلای شې .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de